# د یهودا لیک

## د کتاب پېژندنه

په لومړۍ میلادي پېړۍ کې مسیحي ایمان په مختلفو هېوادونو کې په چټکۍ سره خپرېده او خلکو عیسی مسیح د خپل خلاصوونکي په توګه منلو. خو د مسیح په رښتینو ایماندارانو کې یو شمېر خلک هم ورننوتلي وو چې غلطې او د حقیقت څخه لېرې عقیدې یې درلودلې او د هماغو عقیدو په هکله یې وعظ کاوه.

یهودا خپل ځان د عیسی مسیح خدمتګار او د یعقوب ورور معرفي کوي. دا ایماندارانو ته د یهودا لیک دی. د هغه ورور یعقوب د اورشلیم د کلیسا مشر شو او هغه هم یو لیک ولیکه.

یهودا په دې لیک کې رښتینو ایماندارانو ته د دروغجنو استاذانو او بې‌دینه خلکو د مقصدونو په اړه خبرداری ورکوي. هغه لوستونکو ته ور په یادوي چې خدای څنګه په پخوا زمانه کې بې‌دینه خلکو او فرښتو ته سزا ورکړې وه. هغه په دې لیک کې ایمانداران دې ته هڅوي چې په هغه ایمان کې چې رسولانو د هغه په هکله زېری ورکړی دی، د زغم څخه کار واخلي او ټینګ پاتې شي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱: ۱-۲
د دروغجنو استاذانو د شخصیت، تعلیم او سرنوشت په هکله: ۱: ۳-۱۶
خبرداری او لارښوونې: ۱: ۱۷-۲۳
خدای ته د ستاینې دعا: ۱: ۲۴-۲۵

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

۱ دا لیک د یهودا له خوا چې د عیسی مسیح خدمتګار او د یعقوب ورور دی، هغو خلکو ته
لیکل شوی دی چې د پلار خدای له خوا رابلل شوي دي او مینه ورسره کوي او د عیسی مسیح په
وسیله خوندي ساتل شوي دي. ۲ رحم، سلامتي او مینه دې په تاسو کې زیاته شي.

## د دروغجنو استاذانو په هکله تعلیم

۳ ګرانو دوستانو! ما ډېر غوښتل چې تاسو ته د هغه خلاصون په هکله ولیکم چې مونږ ټول په
کې شریک یو، خو دا مې ضروري وګڼله چې تاسو وهڅوم چې د هغه ایمان په خاطر چې خدای
یوځل او د تل دپاره خپلو سپېڅلو خلکو ته ورکړی دی، هلې‌ځلې وکړئ. ۴ زه تاسو ته د دې
دپاره وایم چې ځینې بې‌دینه خلک چې د غلطې عقیدې په هکله تعلیم ورکوي، په پټه په مونږ کې
راننوتلي دي. دا هغه خلک دي چې ډېر پخوا د خدای په کلام کې هغوی ته د سزا ورکولو په هکله
لیکل شوي دي. هغوی زمونږ د خدای فضل په غلطه تعبیروي، ترڅو د خپلو نفساني غوښتنو د پوره
کولو دپاره بهانه جوړه کړي او زمونږ د یوازېني بادار او ښښتن عیسی مسیح څخه انکار کوي.

۵ که څه هم تاسو لا د مخکې نه له دې څخه خبر یئ، خو زه غواړم تاسو ته در په یاد کړم چې
ښښتن څنګه د اسراییلو خلک د مصر څخه راوویستل، خو وروسته یې هغه خلک تباه کړل چې
ایمان یې رانه ووړ. ۶ همدارنګه هغه فرښتې چې خپل مقام یې ونه ساته او خپل اصلي ځای یې
پرېښود، خدای هغوی په تورو تیارو کې په تلپاتې زنځیرونو وتړلې او د قیامت تر ورځې پورې به
یې چې سزا به ورته ورکوي، هلته ساتي. ۷ په همدې ډول د سدوم او عموره او د هغه شاوخوا
ښارونه چې خلک یې د هغو فرښتو په شان په جنسي بداخلاقی او ناروا غوښتنو اخته شول او اوس
ورته د عبرت په توګه په تلپاتې اور کې سزا ورکول کېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ همدارنګه دا خلک داسې روياګانې ويني چې هغوی دې ته مجبوروي چې خپل بدنونه ناپاکه
کړي، د خدای واک او اختيار نه مني او جلالي موجوداتو ته بد رد وايي. ۹ حتی ميکاييل چې د
ټولو فرښتو مشره ده هغې هم کله چې د شيطان سره د موسی د مړي په هکله بحث کاوه، خپل ځان
ته دا حق ورنه کړ چې په بدو خبرو هغه محکوم کړي بلکې ويې ويل: «څښتن دې تاته سزا
درکړي.» ۱۰ خو دا خلک هغو شيانو ته چې پرې نه پوهيږي بد رد وايي او کله چې هغوی د
بې‌شعوره ځناورو په شان عمل کوي او بې له دې چې فکر وکړي دا کارونه کوي، دا شيان د هغوی
د تباهی سبب ګرځي. ۱۱ افسوس د هغوی په حال! ځکه چې هغوی په هغه لاره روان شول چې
قاين ورباندې روان ؤ. هغوی د پيسو په خاطر د بلعام په شان بې‌لارې شول او د قورح په شان يې
سرکښي وکړه او د هغه په شان هلاک شول. ۱۲ هغوی ستاسو د ملګرتيا مېلمستياوې خرابوي،
ځکه چې په بې‌شرمۍ سره خوري او څښي او يوازې د خپلو ځانونو په فکر کې دي. هغوی د
بې‌بارانه ورېځو په شان دي چې بادونه يې ځغلوي. هغوی د مني بې‌مېوې ونې دي چې له بېخه
ويستل شوې او بيخي مړې دي. ۱۳ هغوی د بحيرې د هغو توفاني څپو په شان دي چې د شرم نه
ډک کارونه يې لکه د ځګونو په شان د سيند په مخ راښکاره کيږي. هغوی د سرګردانه ستورو په
شان دي او خدای د هغوی دپاره يو داسې ځای ساتلی دی چې هلته تل ترتله توره تياره وي.

۱۴ خنوخ چې د آدم څخه وروسته اووم نسل ؤ، د دې خلکو په هکله پېشګويي وکړه او ويلي يې
دي: «ګورئ، څښتن به د خپلو زرګونو فرښتو سره راځي ۱۵ چې د ټولو خلکو په هکله قضاوت
وکړي او هغو بې‌دينه خلکو ته د هغوی د بدو کارونو له امله چې کړي يې دي، سزا ورکړي. څښتن
به دې بې‌دينه ګناهکارانو ته د هغو سختو خبرو سزا ورکړي چې د څښتن په وړاندې يې کړي دي.»

۱۶ دا خلک تل ګوريږي او شکايتونه کوي او خپلو بدو غوښتنو پسې ګرځي. هغوی د خپلو
ځانونو په هکله غټې غټې خبرې کوي او د خپلې ګټې دپاره نورو ته غوړه‌مالي کوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خبرداري او لارښوونې

۱۷ خو ګرانو دوستانو! تاسو باید زمونږ د څښتن عیسی مسیح د رسولانو هغه خبرې چې مخکې
یې کړې دي در په یاد کړئ. ۱۸ هغوی تاسو ته ویلي وو چې په اخره زمانه کې به داسې خلک
پیدا شي چې په تاسو به ملنډې وهي او د خپلو بدو غوښتنو پسې به ګرځي. ۱۹ دا خلک ستاسو
په منځ کې بې‌اتفاقي راپیدا کوي، هغوی نفساني دي او روح القدس په کې نشته.

۲۰ خو ګرانو دوستانو! په خپل سپېڅلي ایمان کې ټینګ اوسئ، د روح القدس د قدرت په وسیله
دعا کوئ، ۲۱ خپل ځانونه د خدای په مینه کې ټینګ وساتئ او د زمونږ د څښتن عیسی مسیح د
رحم په تمه اوسئ چې تاسو ته تلپاتې ژوندون درکړي.

۲۲ د هغو خلکو په اړه چې شک لري، زړه سواندي اوسئ. ۲۳ نور خلک د اور د لمبو نه
راوباسئ او وېې ژغورئ. د خدای څخه په وېرې سره په نورو خلکو باندې رحم کوئ او حتی له
هغو کالیو څخه چې د جنسي ګناهونو داغورباندې لګېدلی وي، کرکه کوئ.

## خدای ته د ستاینې دعا

۲۴ اوس هغه چاته چې کولای شي تاسو د تېروتنې څخه وساتي او بې‌عیبه او په ډېرې
خوشحالۍ سره مو خپل د جلال څخه ډک حضور ته راولي، ۲۵ یعني واحد خدای ته دې چې
زمونږ د څښتن عیسی مسیح په وسیله زمونږ خلاصوونکی دی، جلال، لویي، قدرت او واک او
اختیار وي، له ازله، اوس او تل ترتله! امین!


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.